Afghanistan-Office

# د افغانستان د اقتصادي کنفرانس
# د موضوعاتو لنډیز

## کابل، د ۲۰۱۱ کال د اکتوبر ۸ مه




د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د تشریفاتو سالون

DAN
Deutsch Afghanisches Netzwerk

FRIEDRICH
EBERT
STIFTUNG

# لړلیک

د کنفرانس لس مهمې پایلې
او د راتلونکو بحثونو لپاره سپارښتنې

اجنډا
د افغانستان د اسلامي جمهوریت جمهور رئیس، جلالتماب حامد کرزي پیغام
د افغانستان د بهرنیو چارو د وزیر، جلالتماب ډاکټر زلمي رسول وینا
د المان داتحادي جمهوریت د سفیر، جلالتماب روډیګر ګیونیګ وینا

د کنفرانس د جوړوونکو د ښه راغلاست وینا

د کنفرانس د موضوعاتو لنډیز
لړلید
مسلکي زده کړې
انرژي
بنسټیز جوړښتونه ـ د اورګاډي پټلۍ
کرنه

## د راتلونکو علمي بحثونو لپاره د کنفرانس د سپارښتنو لس مهم ټکي

اول. اقتصادي او ټولنيزې چارې بايد په سياسي لومړيتوبو کې راشي او په لومړيتوبونو کې پاتې شي.
اقتصادي او ټولنيزې ودې ته تر اوسه پورې پاملرنه نه ده شوې. د افغانستان اقتصادي پرمختګ بايد د راتلونکي سياسي کار له بنسټيزو موضوعاتو څخه وي. ددې هدف د تحقق لپاره بايد په ملي، سيمه ييزه او نړيواله سطحه ګډ کار وشي.

دويم. د ولسواکۍ تحقق په ټولنه کې سوکالۍ ته اړتيا لري.
افغانستان د لسو کلونو راپديخوا د ديموکراتيکو شرايطو د رامنځ ته کېدو لپاره هلې ځلې کوي. د افغان ولس د پراخه پرګنو لپاره د بري معيار ددوی په اقتصادي ژوند کې د ګټور بدلون احساس دی. په داسې حال کې چې د افغان ولس لوی اکثريت لا اوس هم په ډېر غربت کې ژوند کوي، تقريبا ټول ثروت د يو ډېر واړه لږکي په لاس کې دی. اوسني سياسي حالت په هيواد کې د ديموکراسۍ په راتلونکي باندې د خلکو باور کمزوری کړی. نو ځکه د ديموکراسۍ د مخالفينو لپاره ټولې لارې خلاصې شوې دي.

دريم. ګام په ګام په خپل ځان د اتکاء په لور
د افغانستان اقتصاد اوس تر ډېره حده په هيواد کې د نړيوالې ټولنې په شتون او نړيوالو مرستو ولاړ دی. دغهٔ اتکاء به په راتلونکي کې هم د يوې اوږدې مودې لپاره پاتې وي. له دې امله همدا اوس بايد ددغه تقريباً هراړخيزې اتکاء د له منځه وړلو لپاره کار پيل شي. نو ځکه بايد شته کورني امکانات تشخيص او وکارول شي.

څلورم. د اقتصادي پراختيا په ډګر کې د دولت نقش:
څنګه چې په افغانستان کې با ثباته او پراخه پرګنو ته د منلو وړ داېمن ديموکراتيک جوړښتونه نشته همدغه شان د اقتصادي ودې په برخه کې هم د مسؤوليتونو کوم څرګند او ټاکل شوی ويش موجود نه دی. په اقتصادي او ټولنيز ژوند کې د ټولنيزو قوتونو ترځنګ تر ډيره حده د دولت مسؤوليت دی چې داسې مقررات رامنځ ته کړي ترڅو ډيرو وګړو او اقتصادي سکتورونو ته ګټور تمام شي. د زياتو بهرنيو اغيزو په موجوديت کې به يوازې په بازار اتکاء ښې پايلې ونه لري.

پنځم. ستونزمن سکتورونه باید په امکاناتو بدل شي:
د اقتصادي ودې او پراختیا له پاره ممکن سکتورونه تر اوسه د اولویتونو په مرکزیت کې نه دي راڅرګند شوي او یا دغه سکتورنو ته اکثره د افغانستان د ستونزمنو سکتورونو په سترګه کتل کیږي. خو د افغانستان د اقتصادي ودې لپاره ډیر امکانات په همدغه ستونزمنو برخو کې پراته دي، چې اکثره د رقابتونو باعث هم کیږي.

شپږم. مسلکي زده کړې، د ځوان نسل او اقتصاد لپاره امید
د افغانستان د خلکو دوه په دریمه برخه له ۲۵ کلونو څخه کم عمر لري او دلته نفوس په ډیر سرعت سره زیاتیږي. پوه او مسلکي ظرفیتونو او کارځایونو ته همدا اوس ډیره اړتیا ده او دغه ضرورت به په راتلونکي کې نور هم زیات شي. لومړنۍ مسلکي زده کړې او په مسلکي برخه کې د لا زیات مهارت ترلاسه کول اقتصادي وده او تولید ګړندی کوي. مسلکي زده کړې د هغه نسل لپاره انرژي ده چې د انرژۍ د تولید او توزیع دغیرمرکزي سیستم او د یوې ټولنې په پرمختګ او اقتصادي وده کې برخه اخلي. دغه نسل نظري او عملي مهارتونو ته یو شان اړتیا لري.

اووم. د انرژۍ سرچینې
لمر، اوبه او باد په افغانستان کې د انرژۍ د تولید سرچینې دي. د افغانستان هیڅ اقتصادي سکتور په ځان متکي نه دی. نو ځکه باید د انرژۍ د تولید او توزیع لپاره په ځان باندې د متکي سیستم په رامنځ کولو سره له موجودو امکاناتو څخه د یوې ستراتیژۍ په توګه کار واخیستل شي. د انرژۍ د تولید او توزیع د یوه غیر مرکزي سیستم امکانات باید د پلان جوړونې په مرکزي عنصر بدل شي تر څو د انرژۍ د وېش په برخه کې د کلیو او ښارونو ترمنځ موجود اوږد واټن لنډ شي. د کلیوالي سیمو وده او پرمختیا تر ډیره حده د انرژۍ د تولید او توزیع سره تړاو لري. ددغه کم نفوسه سیمو لپاره د انرژۍ د تولید او توزیع مرکزي سیستم ډیر ګران تمامیږي.

اتم. افغانستان د ټرانزیت او سیمه ییزې سوداګرۍ د تقاطع مرکز
د ټرانسپورت په برخه کې د افغانستان اوسني جوړښتونه د افغانستان ضرورت نه پوره کوي. نو ځکه ددغه جوړښتونو او په تیره د اورګاډي پټلۍ پراختیا د اقتصادي ودې لپاره یو مهم سیګنال ګڼل کیږي. د ټرانسپورت لپاره د ښو شرایطو د برابرولو له لارې به افغانستان په سیمه کې د ټرانزیت په برخه کې خپل تاریخي ارزښت بیرته ترلاسه کړي. دې موخې ته د رسیدو په خاطر باید د پلان جوړونې ترڅنګ د تطبیق لپاره هم ستراتیژي رامنځ ته شي، تر څو له دغه امکاناتو څخه هیواد ته ګټه ورسیږي.

نهم . د کیلوالو د ژوند د ښه والي لپاره امیدونه
افغانستان د ځمکې د کیفیت، اقلیم او همدغه شان د ترلاسه شویو تجربو له اړخه ددې جوګه دی چې نه یوازې د یوې مناسبې خودکفایۍ په لور ګامونه پورته کړي، بلکې په ځینې برخو کې صادرات هم ممکن دي. خو په اوسني حالت کې ددغه هدف د تحقق لپاره مناسب امکانات نشته. د انرژۍ د تولید او توزیع د غیر مرکزي سیستم ایجاد او د یوه اغیزمن کرنیز سکتور د ودې لپاره لازم اقدامات به د خلکو په ژوند کې ګټور بدلون رامنځ ته کړي.

لسم. د اقتصادي پالیسۍ عمومي موډل
په دې کنفرانس کې د بحث له موضوعاتو نه پرته نور اقتصادي سکتورونه لکه سپک صنایع او داسې نور هم د بحث او پاملرنې وړ دي چې په ډیرو برخو کې لازم اقدامات هم شوي. په ځینو برخو کې ښې او په ځینې نورو برخو کې ډیرې ښې پایلې او تجربې ترلاسه شوې دي. په بېلا بېلو سکتورونو کې د ټولو لوبغاړو ګډه ځیرنه د راتلونکي اغیزمن کار لپاره اساسي شرط دی. اوس د وزارتونو ترمنځ په مختلفو برخو کې د کارونو د پیل او تنظیم په هکله یو عمومي تفاهم او د هماهنګۍ ستراتیژي نشته. خو په راتلونکي کې داسې یوې عمومي ستراتیژۍ ته اړتیا ده چې ځانګړې کاري ساحې له یو بل سره په اړیکه کې شي او د اقتصادي ودې لپاره اړینې پروژې د بېلا بېلو سکتورونو د اړتیا، د دوی ترمنځ د ګډ کار او تبادلې په بنسټ پلان کړي. د بیلګې په توګه د سیمه ییزې اقتصادي ودې په خاطر د سپکو صنایعو او کرنې د پراختیا او اغیزمنتوب لپاره د مسلکي زده کړو

## د کنفرانس اجنډا
## ښه راغلاست

**۸:۳۰ بجې** د افغان جرمن نهاد او فریدریش ایبرت بنسټ له خوا د مېلمنو هرکلی

**۹:۰۰ بجې** د قران عظیم الشان تلاوت

**۹:۲۰ بجې** پیغامونه:

د افغانستان د مخابراتو او معلوماتي تنکنالوژۍ د وزیر، جلالتماب امیرزي سنګین له خوا

دافغانستان د اسلامی جمهوریت جمهور رئیس حامد کرزي د پیغام لوستل

په کابل کې د فریدریش ایبرت بنسټ د دفتر مشر، ښاغلی فرانګ هنتکه د ښه راغلاست وینا

د افغانستان د بهرنیو چارو د وزارت د درییم سیاسي ریاست مشر او افغان جرمن نهاد مرستیال، سیاست پوه ښاغلی ضیاالله محمود د ښه راغلاست وینا

**۹:۴۰ بجې** ویناوې:

د افغانستان د بهرنیو چارو د وزیر، جلالتماب ډاکټر زلمي رسول وینا

د المان اتحادي جمهوریت د سفیر جلالتماب روډیګر ګوینک وینا

د کنفرانس د موضوعاتو پیل ـ لرلید

**۱۰:۲۰ بجې** «د افغانستان د اقتصادي ودې لرلید»

د سوداګرۍ او صنایعو د وزیر، جلالتماب ډاکټر انوارالحق احدي وینا

نقد:

د اوبو، بریښنا، کانونو،تولګټو کارونو، ښاري او کلیوالي پراختیا په برخو کې د جمهور رئیس ستر سلاکار، جلالتماب دیپلوم انجینر محمدیوسف پښتون

چلوونکې:

د اقتصاد وزارت ستر سلاکار ډاکتر الفرید کرفت

**۱۱:۲۰ بجې** لنډه تفریح

مسلکي زده کړې

FRIEDRICH EBERT STIFTUNG

DAN Deutsch-Afghanisches Netzwerk

**۱۱:۴۵ بجې** «مسلکي مهارت د اقتصادي ودې بنسټ»
د المان د نړیوالو همکاریو د مؤسسې د استازي، ډاکټر ګوستاف راییر مقاله
نقد:
د مسلکي زده کړو مرستیال وزیر، ښاغلی اصف ننګ
چلوونکی:
د تعلیمی مدیریت سلاکار او افغان جرمن نهاد سکرترجنرال، ښاغلې داوید مجید

**۱۳:۰۰ بجې** د غرمې ډوډۍ

**۱۴:۰۰ بجې** «په افغانستان کې د بیا احیا کیدونکي انرژۍ د کارولو امکانات»
د انتګریشن، چاپیریال او انرژۍ په شرکت کې د انرژۍ د پروژې مشر، دیپلوم انجینر ګیرد شوبر مقاله
نقد:
د اوبو او بریښنا په وزارت کې د انرژۍ د ریاست مشر، دپلوم انجینر همایون کوهستاني
چلوونکی:
د انتګریشن، چاپیریال او انرژۍ شرکت تخنیکي سلاکار، دپلوم انجینر الیاس وردک
بنسټیز جوړښتونه ـ د اورګاډي پټلۍ

**۱۵:۱۵ بجې** «په سیمه‌ییزه کچه د نړدې کیدو او همکارۍ په برخه کې د افغانستان د اورګاډي پټلۍ اهداف او امکانات»
د افغانستان د ټولګټو وزارت د وزیر، جلالتماب عبدالقدوس حمیدی مقاله
نقد:
پوهندوی حمیدالله فاروقی، د ترانسپورت او هوایي چلند پخوانی وزیر او د کابل په پوهنتون کې د اقتصادي علومو استاد
چلوونکی:
ډاکتر قیام الدین جلال زاده، د محلي ارګانونو د مستقلې اداري سترسلاکار او افغان جرمن بنسټ مشر

**۱۶:۳۰ بجې** تفریح
کرنه

**۱۶:۴۵ بجې** «په افغانستان کې د کرنیز سکتور اوسنی حالت او د راتلونکي لپاره ددې سکتور لرلید»
د بغلان د شکرې د فابریکې عمومي رئیس او د افغان جرمن نهاد د مشرتابه د غړي، ډاکتر عبدالکریم وزیري مقاله
نقد:
دیپلوم انجینر عنایت الله اسحاق زی، په کرنیزو چارو کې د المان د نړیوالو همکاریو د مؤسسې سلاکار
چلوونکی:
میرمن لیزا اکبری، د المان اګروکشن اید مؤسسې سلاکاره
پای

**۱۷:۴۵ بجې** د ډاکټر قیام الدین جلالزاده له خوا دکنفرانس د پایلو جمع بندی او لرلید

**۱۸:۰۰ بجې** د افغانستان د اقتصادي کنفرانس پای

FRIEDRICH EBERT STIFTUNG



DAN Deutsch-Afghanisches Netzwerk



نحمده و نصلی علی رسوله الکریم

## د افغانستان د اقتصادي کنفرانس په مناسبت
## د افغانستان د اسلامي جمهوریت د جمهور رئیس پیغام

د ډیرې خوښۍ ځای دی چې افغان جرمن نهاد له فرید ریښ ایبرت بنسټ سره په همکارۍ د بهرنیو چارو په وزارت کې د افغانستان اقتصادي کنفرانس ترتیب کړی دی.
خبر شوم چې په دې یوه ورځیني کنفرانس کې د افغانستان د اسلامي جمهوریت د وزیرانو او مسؤولینو او همدغه شان زموږ د دوست هېواد، المان اتحادي جمهوریت د مسؤولینو د کلیدي ویناوو سربیره به د افغان او الماني پوهانو او متخصصینو له خوا د مسلکي زده کړو، انرژۍ، بنسټیزو جوړښتونو او کرنې په هکله علمي لیکنې بحث او بررسۍ ته وړاندې شي.
په کنفرانس کې د بحث لپاره غوره شوي موضوعات زموږ د هېواد لپاره له ډیرو مهمو موضوعاتو څخه دي او زموږ د ټولنې د ننني اړتیاوو سره کټ مټ په سمون کې دي. زه له دې کبله د دغې علمي غونډې جوړوونکو ته شادباش وایم.
هیله من یم چې د نننۍ غونډې ویناوې، لیکنې او بحثونه د مرستو د جلب، زموږ د مؤسساتو د پلان جوړونې او کاري لومړیتوبونو په تشخیص او ټاکنو کې ګټور واقع شي.
په کابل کې ددغه کنفرانس د جوړولو په مناسبت افغان جرمن نهاد او فریدریښ ایبرت بنسټ ته مبارکي وایم او له لوی او واحد خدای څخه هیله کوم چې دغه کنفرانس دې د افغانستان په اقتصادي پراختیا او ټولنیزه وده کې ګټور او اغېزمن تمام وکړي.

حامد کرزی

د افغانستان د اسلامي جمهوریت جمهور رئیس



## د افغانستان د بهرنیو چارو د وزیر
## جلالتماب ډاکټر زلمي رسول وینا

بسم الله الرحمن الرحیم

جلالتمابانو، د کابینې غړو، په افغانستان کې د المان اتحادي جمهوریت سفیر، جلالتماب روډیګر ګونیک، په افغانستان کې د فریدریښ ایبرت بنسټ د دفتر ښاغلی مشر، د افغان جرمن نهاد اغلو او ښاغلو غړو، درنو میلمنو، ویاړم چې تاسو ته د افغانستان د اسلامي جمهوریت د بهرنیو چارو په وزارت کې ښه راغلاست وایم.
نننۍ کنفرانس په افغانستان کې د اقتصادي ودې او کارځایونو د ایجاد په لور یو داسې مهم ګام دی چې د افغانستان راتلونکی ډاډمنوي. تاسو ته څرګنده ده چې اقتصاد د ژوندانه د نورو برخو لکه کلتور، ښوونې او روزنې، سیاسي چارو او ټولنیز پیوستون د ودې لپاره لار هواروي.
زه د افغانستان د حکومت په استازیتوب په کابل کې د فرید ریښ ایبرت بنسټ له دفتر او افغان جرمن نهاد څخه مننه کوم چې د داسې مهمو اقتصادي موضوعاتو په هکله یې د نظرونو د تبادلې زمینه مساعده کړه. د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت په پوره لېوالتیا سره په دې لار کې د دغو دواړو مؤسسو مرستندوی دی.
همدغه شان د افغانستان د اسلامي جمهوریت د بهرنیو چارو وزارت په استازیتوب د المان اتحادي جمهوریت له سفارت نه هم مننه کوم، چې ددغه کنفرانس د بریالیتوب لپاره یې له هیڅ ډول همکارۍ ډډه نده کړې.
درنو میلمنو،
د بن په کنفرانس کې به د افغانستان د بیارغونې لپاره تر ۲۰۲۴ کال پورې د نړیوالې همکارۍ بنسټ کیښودل شي. هیله ده چې نننی کنفرانس به د اقتصادي ودې په لار کې زموږ سره د بن د کنفرانس لپاره د نظریاتو او وړاندیزونو په تنظیم کې مرسته وکړي.
د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د نړیوالې ټولنې سره د افغانستان د نږدې والي او ګډ کار اساسي دروازه ده . افغانستان او المان دوه داسې دوست هیوادونه دي چې په نړیوالو او سیمه ییزو اړیکو کې د هر ډول لوړو او ژورو سره سره بیا هم د یو بل ترڅنګ ولاړ وو او په راتلونکې کې به هم د یو بل ترڅنګ ولاړ وي.
افغان جرمن نهاد د افغانستان له داسې لوښو او زامنو نه جوړ دی چې په المان کی ژوند کوي، د افغانستان او المان په وړاندې یو شان د مسؤولیت احساس کوي. نو څکه افغان جرمن نهاد د دواړو ولسونو او هیوادونو ترمنځ په سیاسي، اقتصادي او کلتوري چارو کې د ګډ کار په برخه کې له ټولو نه ښه او اغیزمنه وسیله ده. د افغانستان د اسلامي جمهوریت د بهرنیو چارو وزارت په استازیتوب یو ځل بیا د کنفرانس د بریالیتوب هیله کوم.

ستاسې له پاملرنې څخه ډیره مننه
ډاکټر زلمی رسول
د بهرنیو چارو وزیر



## په افغانستان کې د المان اتحادي جمهوريت د سفير، جلالتماب روډيګر ګوينک وينا

جلالتمابانو، د کابينې غړو، د افغان جرمن نهاد اغلو او ښاغلو غړو، د فريدريښ ايبرټ بنسټ د دفتر ښاغلی مشر، درنو ميلمنو، ميرمنو او ښاغلو،

بی له شکه چې په نږدې راتلونکې کې د افغانستان په هلکه د مهمو پيښو نه به يو هم د ۲۰۱۱ ميلادي کال د دسامبر په ۵ مه د بن کنفرانس وي. هلته به افغانستان او نړيواله ټولنه په ګډه د ۲۰۱۴ وروسته کلونو کې مسؤوليتونه داسې پلان کړي، چې د افغانستان لپاره به ښې پايلې ترلاسه شي. دغه پروسه به يوازې په سياسی اوامنيتي چارو پورې اړوندو موضوعاتو پورې منحصره نه وي او نه به په کلتوري همکاريو پورې محدوديږي، بلکې د افغانستان له اقتصادي ودې سره د اوږدې مودې لپاره مرسته به د کنفرانس له اساسي ټکو څخه وي. هلته به په دې موضوعاتو هم بحث کيږي چې په راتلونکې کې نړيواله ټولنه څه نقش ولوبوي، د افغانستان لپاره کوم اميدونه او امکانات موجود دي. نننی کنفرانس به په دغه مجموعي پروسه کې مهمه ونډه ولري. اقتصادي لرليد د بن د کنفرانس لپاره د تيارېو يو اساسي ګام دی. همدغه شان د روان کال د اکتوبر په ۲۶مه به نړيوال اقتصادي شرکتونه په بروسل کې د افغان حکومت د استازو سره جرګه شي ترڅو په اقتصادي چارو کې د ګډ کار په امکاناتو بحث وکړي. اقتصادي وده د افغانانو لپاره د يوه ډاډمن راتلونکې او په خپل ځان باندې د اتکاء په پروسه کې اساسي ونډه لري. نو ځکه بايد ددې موخې د تحقق لپاره کار د هيڅ ډول سياسي ملحوظاتو په چوکاټ کې محدود نه شي.

افغانستان د خپلې سوکالۍ او اقتصادي ودې لپاره ډيرې سرچينې او امکانات لري. ددغو امکاناتو او سرچينو څرګندول او په ګوته کول زموږ دنده ده. په تيرو لسو کلونو او همدغه شان په راتلونکې کې په پراختيايي چارو کې زموږ د ژورو همکاريو نه موخه د يو په ځان متکي افغانستان د اقتصادي ودې لپاره د بنسټونو له جوړولو نه بل څه نه دي. بالاخره اقتصادي وده ده چې د افغانستان راتلونکې ټاکي. که چيرې موږ په دې بريالي شو چې په ګډه سره افغانانو ته د اميدونو دروازې پرانيزو، خلکو ته د کار او زده کړې زمينه برابره کړو او د ودې موجودو امکاناتو ته نوره هم پراختيا ورکړو، دا چارې به د اقتصاد په وده ګټور اغيز وکړي. موږ بايد په تيرو لسو کلونو کې خپلې لاسته راوړنې له نظره و نه غورځوو. مهمه داده چې موږ شتو امکاناتو ته وده ورکړو او هغه وکاروو.

موږ په نږدې تيرو وختو کې د افغانستان په طبعي منابعو ډيرې خبرې وکړې. له شک پرته طبعي منابع يوه مهمه موضوع ده خو افغانستان د اقتصادي ودې لپاره نور ډير امکانات هم لري. افغانستان کرنيز توليدات لري چې د نړيوال مارکيټ لپاره بايد اماده شي. په دې برخه کې اروپايي اتحاديه مهم نقش لوبولی شي. د افغانستان جغرافيايي موقعيت تل د دوديزې سوداګرۍ لپاره مهمه لار وه. نو ځکه د وربښمو د لارې په نامه زموږ د امريکايي ملګرو نوښت د پوره اهميت وړ دی. په دغه نوښت څه موده مخکې په نيويارک کې بحث وشو. د سوداګرۍ د دوديزې لارې لا پراختيا او په سيمه کې د يوه سوداګريز مرکز په توګه د افغانستان رامنځ کيدل به د اقتصادي خپلواکۍ په لور يو مهم ګام وي. له دې امله هم نننی کنفرانس د ډير اهميت وړ دی او په زماني لحاظ په ډير ښه او حساس وخت کې دائر شو. نننۍ غونډه د افغان جرمن نهاد او فريدريښ ايبرټ بنسټ د ګډ کنفرانس په توګه په تيرو وختو او هم په راتلونکې کې د افغانستان او المان د اوږدو هلو ځلو او ګډ کار يوه برخه ده. زه، نن ټولو ته د پوره برياليتوب هيله کوم.

مننه

روډيګر ګيونيګ

په افغانستان کې د المان اتحادي جمهوريت سفير

# د کنفرانس د جوړوونکو څو خبرې

د افغانستان د اقتصادي کنفرانس د موضوعاتو د لنډيز درنو لوستونکو،
موږ، د کنفرانس جوړوونکي د افغانستان اسلامي جمهوريت ولسمشر، جلالتماب حامدکرزي د اغيزمنې مرستې او ملاتړ نه د زړه له کومې مننه کوو، د افغانستان د اسلامي جمهوريت د بهرنيو چارو وزير، جلالتماب ډاکتر زلمي رسول نه هم منندوی يو چې د کنفرانس کوربه توب يې په غاړه واخيست. همدغه شان د المان اتحادي جمهوريت د سفير، جلالتماب روډيگر کونيک له مرستې او همکارۍ څخه مننه کوو.
دغو جلالتمابانو اقتصادي وده په افغانستان کی د ديموکراسۍ د ټينگښت له پاره حياتي ارزښت او ددې کنفرانس پايلې يې د راتلونکو نړيوالو کنفرانسونو لپاره يو ښه بنسټ وگڼه. همدغه شان موږ له ټولو ويناوالو، نقدکوونکو، د بيلا بيلو برخو چلوونکو، مرستندويانو او برخه والو نه مننه کوو. ددوی د فعال حضور نه پرته د کنفرانس پايلې چې لنډيز يې تاسې ته وړاندې کيږي، ناشونې وې.
په اقتصادي برخه کی په ځان د بسياکېدنې، ديموکرات او ښيگڼيز هيواد د جوړولو په نيت د افغانستان سره د مرستې په لارکې به موږ په راتلونکي کی هم د يو لړ ستونزو سره مخامخ شو. دلته د ډيرو مهمو کارونو ترسره کول پيل شوي خو يو لړ مهم کارونه لا په مخ کی دي.
بې له شکه د خلکو امنيت مهم او لومړنۍ موخه ده. خو د هيواد د بيا رغونې ډيرې چارې بايد ځانگړې ونه گڼل شي. دغه کنفرانس ته د تياري په وخت کې او له کنفرانس نه وروسته هم زموږ ترمنځ دغه نظر حاکم ؤ چې اقتصادي وده د خلکو په ټولنيز ژوند مثبت اغيز کوي، د هيواد د ټولنيز او سياسي ټيکاو لپاره يو ضروري بنسټ جوړوي. باکيفيته کار او توليد خلکو ته اقتصادي سوکالي راوړي او ټولنيز نارضايت په تدريجي توگه له منځه وړي. دغه شان يوه پروسه د يوې ټولنې د ثبات لپاره ايډياله وده ده چې د هرنارينه او هرې ښځې جوړوونکې ونډې ته پکې اړتيا شته ده. دغه کنفرانس يوځل بيا څرگنده کړه چې دلته د سياسي او اقتصادي ستونزو د حل لپاره يوې أفغاني لار ته اړتيا ده. د اقتصادي ودې په نيت بايد لومړی د افغانستان مادي او معنوي امکانات په نظر کې ونيول شي. له همدې کبله په کنفرانس کې د بحث لپاره څلور مهم موضوعات ټاکل شوي. دغه موضوعات د أهدافو په ټاکلو او هغوته د رسيدو لپاره په موجودو امکاناتو تکيه کوي.
د افغانستان راتلونکی د هيواد د ځوان نسل په لاس کې دی او اوس بايد دغه نسل توانايي پيدا کړي، چې پاخه او کوټلي گامونه پورته کړي. ددې لپاره د ټولنې په افقي او عمودي جوړښت کې مسلکي زده کړو ته ضرورت دی. مسلکي زده کړې د اغيزمنې ادارې او باکيفيته توليد لپاره لومړنی شرط او په اوسني عصر کې د افغانستان د برياليتوب او پايښت له پاره ډاډمن ضمانت دی.
همدغه شان د سيمې د تقاطع د مرکز په توگه د افغانستان ارزښتمند جغرافيايي موقعيت د پام وړ دی. نو ځکه په کنفرانس کې ترانسپورتي جوړښتونو ته پاملرنه شوې. د زرگونو کيلومترو په اوږدوالي د اور گاډي پټلۍ د جوړولو پلان بايد د سيمه ييزو سوداگريزو ستراتيژيکو أهدافوسره په سمون ترسره شي.
له انرژۍ څخه پرته نه پرمختگ او نه هم د انسانانو په ژوند کې گټور بدلون ممکن دی. په وارداتي انرژۍ د افغانستان ډيره اتکاء د اقتصادي ودې په لارکې يو ستر خنډ دی. افغانستان د انرژۍ د توليد لپاره د باد، لمر او اوبو کافي منابع لري. دا بايد وڅيړل شي، چې د هيواد د پرمختگ لپاره ددغه منابعو کارول څنگه ممکن کيدلای شي؟
کرنې ته د ستونزې په نظر کتل د افغانستان د پرمختگ او په ځان د بسياينې لپاره د موجودو امکاناتو نه سترگې پټول دي. د کرنې د پرمختگ لپاره ښه نظريات شته خو د عملي کولو لپاره ډير کار او مسلکي زده کړو ته اړتيا ده. له اوبو نه د ښې استفادې لپاره انرژۍ ته اړتيا ده او بازارونو ته د توليداتو رسول اغيزمن ترانسپورتي جوړښتونو ته ضرورت لري. ددې کنفرانس پايلې نورو بحثونو ته ضرورت لري. فريدريښ ايبرت بنسټ او افغان جرمن نهاد به ددې کنفرانس د پايلو په رڼا کې د علمې بحثونو لړۍ ته ادامه ورکړي.

# لرلید ـ ویژن

**وینا وال: جلالتماب ډاکټر انوار الحق احدی، د سوداګرۍ او صنایعو وزیر**
**نقد کوونکی: جلالتماب ډیپلوم انجینر یوسف پښتون، د ولسمشر ستر سلاکار**
**چلوونکی: ډاکتر الفرید کرفت، د اقتصاد وزارت سلاکار**

## د وینا لنډیز

ډاکټر انوار الحق احدی، د افغانستان د اسلامي جمهوریت د سوداګرۍ او صنایعو وزیر په پیل کې هغه فکتورونه په ګوته کړل چې په عمومي توګه اقتصادي وده اغیزمنوي، د حکومت په لاسته راوړونو یې بحث وکړ او په راتلونکې کې د حکومت د اقتصادي پالیسي په جزیاتو وغږېد. ډاکټر احدي د افغانستان د اقتصادي ودې په هکله د احتیاط نه ډکه خوشبیني څرګنده کړه او ویې ویل چې امنیت د اقتصاد په وده کې کلیدي رول لري. ښه امنیت د پانګه اچونې لپاره اساسي شرط دی، غیر ډاډمن امنیتي حالت متشبثین مترددوي، د تولید قیمت لوړوي او په ټولنه کې د زیاتې بیکارۍ باعث کیږي. په افغانستان کې د طالبانو له سقوط نه وروسته په لومړیو کلونو کې امنیتي حالت په نسبي توګه ښه ؤ. نو افغانستان یوولس سلنه ښه اقتصادي وده درلوده او ناخالص کورنی عاید درې چنده شو. په تیرو درېیو کلونو کې د هېواد امنیتي حالت ښه نه دی چې په نتیجه کې یې اقتصادي وده هم زیانه نده.
د ازاد بازار اقتصاد په تیرو ۳۰ کلونو کې په نړیواله کچه حاکم دی چې په ډیرو ټولنو کې د چټکې اقتصادي ودې او سوکالۍ باعث شوی دی. افغانستان د تیرو لسو کلونو راپدیخوا د ازاد بازار اقتصاد منلی دی. افغانستان په دې موده کې خپل ډیر قوانین د ازاد بازار د اصولو سره برابر کړي دي، د مثال په توګه: د پانګه اچونې، بانکونو، د شرکتونو د تاسیس، د اسعارو د تبادلې، د ځمکې د اجارې، د کانونو د استخراج، ګمرکاتو، مالیاتو، د بودجې او د تدارکاتو قوانین د نړیوال ستندرد سره په سمون کې تدوین او نافذ شوي دي چې د متشبثینو د هڅونې لامل کیږي. نور مهم قوانین لکه د افلاس، د مستهلکینو د ملاتړ او د رقابت قوانین د قانون جوړونې په پروسه کې دي. خو د قوانینو په برخه کې د پرمختګ تر څنګ افغانستان د قوانینو د تطبیق په برخه کې د ستونزو سره مخ دی. حکومت ددې ستونزو د له منځه وړلو لپاره کار کوي.
د سوداګرۍ او خدماتي سکتورونو په تیرو لسو کلونو کې ښه وده کړې. خو له بده مرغه واردات د افغانستان په اقتصاد کې لویه ونډه لري. د افغانستان کلني واردات له ۸ نه تر ۹ میلیاردو ډالرو پورې رسیږي په داسې حال کې چې د صادراتو اندازه ډیره کمه ده، نا مناسب امنیتي حالت، د فني کارګرانو کموالی او د زاړه تخنیک نه استفاده د تولید بیه لوړوي.
په افغانستان کې د صنعت وده د قناعت وړ نده او تر تیرې لنډې مودې پورې مناسبې صنعتي پالیسۍ وجود نه درلود . اوس د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو وزارت یو شمیر هغه صنعتي سکتورونه لکه (د مرمرو پروسس، د قالینو اوبدل، د قیمتي ډبرو پروسس، د کرنیزو محصولاتو پروسس، د وړیو او چرم پروسس) تشخیص کړی چې د صادراتو په برخه کې رقابت کولی شي. د سوادګرۍ او صنایعو وزارت ددغو صنایعو د ودې لپاره متشبثینو ته مسلکي سلا مشورې ورکوي او د یو محدود وخت لپاره ددوی سره تعریفوي، مرسته کوي تر څو په سیمه ییزو او نړیوالو مارکیټونو کې د رقابت جوګه شي.
افغانستان په تیرو کلونو کې د بنسټیزو جوړښتونو په برخه کې په نسبي ډول ښه پرمختګ کړی. د ۶۰۰۰ کیلومترو نه زیات سړکونه په پاخه ډول جوړ شوي چې نه یوازې د افغانستان ټول ولایتونه سره نښلوي، بلکې افغاستان د خپلو ټولو ګاونډیانو لپاره د مرکزي او جنوبي اسیا، خلیج او حتی اروپایي مارکیټونو ته د لاس رسي زمینه برابروي. د اوسپنې د پټلۍ د غزیدو او پراختیا کار پیل شوی چې د افرادو او مالونو د انتقال په برخه کې به اساسي بدلون رامنځ ته کړي او په منځنۍ او جنوبي اسیا کې به اقتصادي وده نوره هم چټکه کړي.
د مخابراتو او عامه مفاهمې په برخه کې افغانستان د ګرځنده تلیفون یوې ښې او اغیزمنې شبکې څخه برخمند دی، د ټلیفون دیجیټل شبکه د پراختیا په حال کې ده او انټرنیټ هم په سرعت سره د هېواد بیلا بیلو برخوته لار پیدا کوي.
د انرژۍ د تولید او ویش په برخه کې افغانستان د خپل اوسني نفوس او صنعتي مؤسساتو د اړتیا د پوره کولو لپاره ۵۰۰۰ میګاواټه بریښنا ته اړتیا لري. اوس په هېواد کې ۸۷۰ میګاواټه بریښنا شته او د ټول ضرورت د پوره کولو لپاره د برق د تولید لوبې او وړې پروژې د عملي کیدو په حال کې دي. حکومت د بریښنا د تولید او اوبو د زیرمه کولو په خاطر په کونړ، کوکچه، باغ دره، پنجشیر او نورو سیمو کې د لویو بندونو د جوړولو څېړنې پیل کړي دي. ددغو پروژو د عملي کیدو په صورت کې به نه یوازې د افغانستان ضرورت پوره شي، بلکې د صادراتو لپاره به هم په کافي اندازه انرژي تیاره کړي.


Afghanistan
Moderator
Dr. iur. Zangah Shinwari
Moderator


FRIEDRICH
EBERT
STIFTUNG
Shoeib Azam
Embassy of the Federal Republic
of Germany

د مسلکي کدرونو او کسبه کارانو کمښت د افغانستان د اقتصادي ودې په لار کې لوی خنډ دی. که څه هم په تیرو څو کلونو کې د مسلکي پرسونل شمیر زیات شوی خو د کیفیت په برخه کې کافي نیمګړتیا احساسیږي. په بهرنیو هېوادونو کې د روزل شویو افغانانو بیرته راستیدل د دې ضرورت په پوره کولو کې یو مثبت ګام دی. حکومت له یوې خوا هېواد ته د لا زیاتو مسلکي افغانانو بیرته راتګ تشویقوي او د بلې خوا په هېواد کې د تعلیمي مؤسساتو د کیفیت د لوړولو له پاره هڅې کوي.

## نقد

د ولسمشر ستر سلاکار، دیپلوم انجینر محمد یوسف پښتون په خپل تحلیل سره د ډاکتر احدي موقف تایید کړ او زیاته یې کړه چې له امنیت نه وروسته په ټولو اقتصادي سکتورونو کې د مسلکي کدرونو او کسب ګرو کمښت د افغانستان لپاره د ټولو نه ستر چلنج دی. په افغانستان کې د ګاونډیو او نورو هېوادونو اتباع کار کوي چې له یوې خوا ډیر قیمته تماميږي او له بلې خوا زموږ د بشري منابعو د ودې مخه نیسي. نو ځکه باید لومړی د شته وو مسلکي اشخاصو لپاره د مناسب کار او کسب تدارک وشي. همدغه شان باید حکومت هڅه وکړي چې په ولسوالیو او کلیوالي سیمو کې د کسب او کار امکانات برابر کړي، ترڅو ښارونو ته د کلیوالي سیمو نه د خلکو د فرار مخنیوی وشي. د کرنې په برخه کې باید په کیفي او کمي لحاظ د مسلکي زده کړو زمینه مساعده شي. نو ځکه باید دولت نه یوازې د پالیسي جوړوونکي او څارونکي نقش ولري، بلکې خپله باید په تولید کې فعاله برخه واخلي.

## بحث

د حکومت له خوا خپریدونکي ارقام اکثره د غیر دولتي ارګانونو له ارقامو سره په تضاد کې وي او د غیر دولتي ارګانونو له خوا خپریدونکي ارقام اکثره باوري او ډاډمن وي.

حکومت د لسو کلونو وروسته غواړي چې په اقتصادي چارو کې مداخله وکړي ایا دا ډیره ناوخته نه ده؟

د ډاکټر احدی په نظر دولت هیڅ وخت او هیڅ چیرته ناظر نه دی. په افغانستان کې حکومت غواړي چې په لویو او بنیادي پروژو کې پانګونه وکړي، وړې او زود ثمره پروژې خصوصي سکتور ته پریږدي. افغانستان به په راتلونکو کلونو کې هم زیاتو پرمختیایي مرستو ته اړتیا ولري.

## لرلید

نړیوالې مرستې د حکومت او غیردولتي مؤسساتو د پرمختیایي پروژو د تمویل ستره منبع ده. په ۲۰۱۴ کال کې افغانانو ته د مسؤولیتونو له پوره انتقال نه وروسته باید دغه مرستې یو په یو کمې نشي. ددغو مرستو یو په یو کمېدل به په اوسني اقتصادي حالت منفي اغیز وکړي. ددغو مرستو تدریجي کمېدل باید هغه وخت پیل شي، چې د افغانستان کورني عواید یې جبیره کړای شي. افغانستان به پنځه کاله وروسته وکړی شي، چې د کانونو له استخراج نه د کال ۱.۵ ملیار ده امریکایي ډالر ترلاسه کړي. هغه وخت کېدلای شي، د نړیوالو مرستو تدریجی کمېدل پیل شي. پر دې سربېره باید انکشافي پروژې د افغانستان د حکومت له لارې تطبیق شي.

د نړیوالو ځواکونو وتل به امنیتي حالت متضرر کړي. نو ځکه باید د بهرنیو ځواکونو وتل د افغانستان د امنیتي ځواکونو د کمي او کیفي ودې سره په تناسب ترسره شي. په هېواد او سیمه کې د ثبات د ټینګښت په خاطر افغانستان ستراتیژیک تړون لاسلیک کوي او دغه شان ستراتیژیک تړونونه به له نورو نړیوالو همکارانو سره هم لاسلیک کړي، ترڅو د افغان ولس امنیت خوندي او اقتصادي وده کړندۍ شي.

## د بازار په هکله ددولت مسؤولیت

د افغانستان اقتصاد له زیاتو ستونزو او ګواښونو سره مخامخ دی. نو ځکه باید د اقتصاد په وده کې ددولت نقش له سره ارزیابي شي. د موجودو ستونزو په نظر کې نیولو سره ددې ضرورت احساسیږي چې دولت باید د اقتصادي پراختیا په پروسه کې د اکثرو سکتورونو مرستندوی وي. دولتي مرسته کېدی شي د کارکوونکو د مسلکي کیفیت د لوړولو، د اقتصادي بنسټونو د پیاوړتیا او یا هم د ارزانه بهرنیو مالونو سره د رقابت په خاطر تعریفوی او د ملاتړ بڼه ولري.

# مسلکي زده کړې

وړاندې کوونکی: ډاکتر گوستاف راییر
نقدکوونکی: محمد اصف ننگ، د مسلکي زده کړو لپاره مرستيال وزير
چلوونکی: داوید مجید د لوړو زده کړو په وزارت کې د تعلیمي منجمنت سلاکار

## پریزنتیشن

ډاکټر گوستاف راییر د افغانستان د بشري منابعو په هکله په ۲۰۰۶ کال کې د یوې ترسره شوې څیړنې په استناد وویل چې په افغانستان کې د ۱۵ میلیونه کارمندانو له جملې یوازې په سلوکې ۲،۶ مسلکي مهارت لري. ۱،۳ میلیونه پیغلې او ځوانان د ۱۵ - ۱۹ کلونو عمر لري چې د مسلکي زده کړو لپاره مناسب عمر دی. خو د دوی لپاره د مسلکي زده کړو یوازې ۱۳۰ مرکزونه شته چې د ۴۴۰۰۰ زده کوونکو د جذب وړتیا لري. د حکومتي پلان له مخې به افغانستان تر ۲۰۲۰ کال پورې د ۳۰۰۰۰۰ شاگردانو له پاره د مسلکي زده کړو ۴۰۰ ښوونځي ولري.
اوس د افغانستان اقتصاد د مسلکي پرسونل له نه شتون سره لاس او گرېوان دی او ټولنه د مسلکي زده کړو د مؤسساتو د کموالي سره مخامخ ده. په کار ده چې اقتصادي مؤسسات او دولت د مسلکي پرسونل د روزنې لپاره د عمل په یوه پروگرام موافقه وکړي ترڅو د اقتصاد لپاره د مسلکي پرسونل ستونزه حل شي او د ځوانانو لپاره د مسلکي زده کړو هیله پیدا شي. پدې توگه به له یوې خوا دولت او اقتصاد په گډه سره د ټولنیز ثبات او ځوانانو ته د زده کړې او کاري مصروفیت په برخه کې خپل مسؤولیت په ځای کړی وي. له بلې خوا به د باکفایته مسلکي پرسونل په وسیله د اقتصادي مؤسساتو د رقابت د توان د لوړولو له پاره کار شوی وي. عمومي او مسلکي زده کړې د ځانگړو اقتصادي مؤسساتو او ملي اقتصاد د نوښت قوت زیاتوي. د مسلکي زده کړو د یوه جامع پروگرام په وسیله د ملي اقتصاد وده په کال کې ۲۵ سلنه لوړېدلای شي. په مسلکي زده کړو متکي اقتصاد لرونکي هیوادونه نه یوازې په ځان بسیا او شتمن دي، بلکې د تولید او خدماتو په برخه کې د لوړې ودې نه برخمن هم دي.
د مسلکي زده کړو په برخه کې د دولت او اقتصاد د گډ مسؤولیت په نتیجه کې باید د هیواد په کچه د مسلکي زده کړو د تنظیم لپاره مختلط مؤسسات رامنځ ته شي. په محلي سطحه باید د مسلکي ښوونځیو او اقتصادي مؤسساتو ترمنځ داسې همکاري رامنځ ته شي، چې په بېلابېلو مؤسساتو کې عملي زده کړې د یوه واحد ستنډرد په بنسټ ترسره شي.
د ۳ نه تر ۱۲ میاشتې د مسلکي زده کړو لپاره کفایت کوي خو د زده کړو محتوی باید د دولت او اقتصاد له خوا په گډه وټاکل شي. زده کړې باید په بېلو بېلو وختونو کې په مسلکي ښوونځیو او اقتصادي مؤسساتو کې ترسره شي. وروستۍ ازموینې باید د اقتصادي او ټولنیزو مؤسساتو دیوه گډ مسلکي کمیسیون له خوا واخیستل شي.
لنډه دا چې د مسلکي زده کړو په برخه کې د گډ مسؤولیت په نتیجه کې باید په ملي کچه د دولت او اقتصاد له خوا د مسلکي زده کړو د تنظیم لپاره گډ مؤسسات رامنځ ته شي. همدغه شان په محلي سطحه باید د مسلکي ښوونځیو او اقتصادي مؤسساتو ترمنځ د کار وېش داسې وي، چې عملي زده کړې د یوه واحد ستنډرد له مخې په اقتصادي مؤسساتو کې ترسره شي.

## نقد

د مسلکي زده کړو لپاره مرستیال وزیر ښاغلي اصف ننګ په قول افغانستان په تیرو لسو کلونو کې د پام وړ پرمختګ کړی دی، د ښوونځیو او مسلکي زده کړو د فارغانو په شمیر کې پوره لوړوالی راغلی. د مسلکي زده کړو په برخه کې د نویو کسبونو زده کړې لکه د خوراکي موادو پروسس، بیا احیا کیدونکي انرژۍ، د ځنګلونو پالنه او پراختیا، توریزم، رستورانت او هوټل داري رواج شوې ده. د زده کړو په کیفیت کې د پام وړ ګټور بدلون راغلی خو د ګاونډیو هیوادونو لکه ایران او پاکستان سره لا د سیالۍ جوګه نه دي. د ښوونځیو د ۸،۵ میلیونه فارغانو نه به یوازې 3 میلیونه شاګرادان د نورو زده کړو امکانات ترلاسه کړي تر څو د کسب او کار په بیلو بیلو برخو کې فعالیت ته اماده شي. د مسلکي زده کړو نوی نصاب داسې ترتیب شوی چې د تطبیق په وخت کې د ستونزو سره مخامخ نشي. د د مسلکي زده کړو له ۱۴۲ رشتو څخه ۷۴ د کرنې د سکتور سره په سمون ترتیب شوي. د ښوونې او روزنې وزارت د ۲۰۱۱ کال د اپریل په میاشت کې د المان د نړیوالو همکاریو د مؤسسې په مرسته د مسلکي زده کړو د مؤسساتو لپاره د ښوونکو د روزنې د یو سیستم رامنځ ته کول پیل کړي دي.همدا اوس د کابل د ښوونکو د روزنې په اکاډمۍ کې د مسلکي ښوونځیو لپاره ۳۰۰ ښوونکي د روزنې لاندې دي. پر دې سربیره د المان د نړیوالو همکاریو د مؤسسې په مرسته د تخنیکي او تولیدي کسبونو لپاره فني کارګرانو د روزنې او ازموینې د یو سیستم د ایجاد لپاره کار کیږي. د ښوونې او روزنې وزارت د یو پنځه کلن (۲۰۱۱- ۲۰۲۰) ستراتیژیک پلان په تطبیق پیل کړی چې مسلکي زده کړې په کې مرکزي نقش لري. ددې پلان له مخې باید په ولسوالیو کې هرکال ۷۲ مسلکي ښوونځي رامنځ ته شي.

## بحث:

د ښاغلي ننګ د څرګندونو وروسته د مسلکي زده کړو په کیفیت انتقاد او د کسب او کاري کیفیت د لوړولو په خاطر له ۳۰ نه تر ۴۰ پورې دنورو مؤسساتو د رامنځ ته کولو وړاندیز وشو. دلته باید یوازې د کار په محلي مارکیټ کې د روزل کیدونکو کارګرانو استخدام په نظر کې نه وي، بلکې دغه روزنه باید داسې ترسره شي، فارغان په سیمه ییز او نړیوال مارکیټ کې هم د استخدام جوګه وي. افغانستان په راتلونکو کلونو کې د ۴۰۰۰۰۰ نه تر ۵۰۰۰۰۰ پورې داسې کارګرانو ته اړ دی چې په سیمه ییز او نړیوال ستنډرډ روزل شوی وي. له دې نه پرته یادونه وشوه چې د روزنې ډیری برخې د عملي امکاناتو سره په سمون کې نه دي. نو ځکه باید له ښوونې او روزنې څخه دعمل په ساحه کې د استفادې لپاره د ډاکټر رابیر وړاندیزونه د مسلکي زده کړو نصاب ته لار پیدا کړي، عمل ته نږدې مسلکي زده کړې د پوهنتونیزو زده کړو په پرتله ډیرې ګټورې دي نو ځکه باید مسلکي زده کړو ته د ښوونځیو د فارغانو ترمنځ ډیر تبلیغ وشي.

د ښوونکو روزنه او معاش د بحث مهمه موضوع وه ځکه ډیر ښوونکي د کم عاید له وجهې اړ دي چې د ښوونکو ددندې ترڅنګ د ټکسي چلولو په شان نور کارونه وکړي چې دا بیا په ښوونځیو کې د کار کیفیت ټیټوي.

همدغه شان په ښاري او کلیوالي سیمو او په تیره بیا په لېرې پرتو سیمو کې د زده کړو د امکاناتو ترمنځ ډیر توپیر دی، دغه توپیر د ټول هیواد په کچه د یوې متوازنې اقتصادي ودې مخه نیسي.

## لرلید ـ څه باید وشي؟

افغانستان باید د مسلکي زده کړو داسې یو کاري سیستم رامنځ ته کړي چې د اقتصادي مؤسساتو او اداري نظام ضرورت پوره ، اقتصادي رقابتي قوت پیاوړی او پرله پسې اقتصادي وده یقیني کړي. اوس اقتصادي مؤسساتو ته یو تاریخي چانس وربه برخه شوی چې دداسې یوه سیستم په رامنځ ته کولو کې جوړوونکې ونډه واخلي. هغه ځوانان چې د مسلکي مهارتونو سره مینه لري اوس یوازې په پوهنتونیزو زده کړو کې خپل چانسویني. دولت او اقتصاد باید په ګډه د نورو کسبونو زده کړې ته ځوانان وهڅوي او موجود امکانات پراخه کړي. دغه کار باید په ملي سطحه ترسره شي او په خاصو سیمو پورې محدود نه وي. اقتصادي مؤسسات باید عملي او جوړوونکی رول ولوبوي.اقتصادي مؤسسات د مناسبو او کارپوه ځوانانو د استخدام سره علاقمند دي او په دې توګه به د یوې خوا په منځمهاله او اوږده موده کې د ښو تولیداتو او خدماتو عرضه ممکنه شي او له بلې خوا به په کورني بازار کې د بهرنیو تولیداتو په وړاندې د ملي تولیداتو رقابتي توان لوړ شي. نو ځکه باید د مسلکي زده کړو د نصاب په جوړښت کې د اقتصادي مؤسساتو، کارګري ټولنو او تولید د خاوندانو استازي فعال او پرېکنده نقش ولري. دغه مؤسسات ضرورتونه ښه درک او تشخیصولای شي. مسلکي زده کړو ته د ځوانانو د هڅونې په خاطر باید د کار په بازار کې د دوی ځانګړې چانسونه په ګوته شي، تولیدي او خدماتي مؤسسات، کارګرې ټولنې او دولت باید د مسلکي زده کړو په سیستم موافقه وکړي، د هیواد د پرمختګ او سوکالۍ لپاره په ګډه کار کول او د ډیرو چلنجونو په وړاندې ګډ دریځ باید د دولت او اقتصاد شریکه علاقمندي وي. بېلې او ځانګړې هڅې او مسؤولیتونه باید سره یو ځای شي تر څو په تفاهم سره د عمومي او مسلکي زده کړو نه په استفادې سره یوه اغیزمنه هر اړخیزه کاري ستراتیژي رامنځ ته شي. د یوې داسې ستراتیژۍ په وسیله د هیواد په ابادۍ او پرمختګ کې د ځوانانو د جوړوونکې ونډې لپاره کار وشي.

# په افغانستان کې د بیا احیا کیدونکې انرژۍ د کارولو امکانات

**وړاندې کوونکی:** دیپلوم‌انجینر ګیردشوبر، د انتګریشن، چاپیریال او انرژۍ په شرکت کې د انرژۍ د پروژې مسؤول
**نقد:** دیپلوم انجنیر همایون کوهستاني، د اوبو او برېښنا په وزرات کې د انرژۍ رئیس
**چلوونکی:** دیپلوم انجنیر الیاس وردګ، د انتګریشن، چاپیریال او انرژۍ شرکت تخنیکي سلاکار او د بهرنیو اړیکو مسؤول

## پریزنتیشن

د ښاغلی ګیرد شوبر څرګندونې په دوه ټکو متمرکزې وې: هغه دا چې د افغانستان په کومو سیمو کې ـ او په کومه اندازه د بیا احیا کیدونکې انرژۍ د تولید او کارولو امکانات شته. دده په نظر په افغانستان کې د انرژۍ د تولید او وېش د یوه اغیزمن مرکزي سیستم رامنځ ته کول ممکن نه دي، همدا اوس د افغانستان په بیلو بیلو سیمو کې د انرژۍ د عرضې بڼه فرق کوي. د بیلګې په توګه د هیواد په لویدیځ کې د مرکزي او ختیځو سیمو په پرتله د انرژۍ عرضه بهتره ده. حتی پلازمینه کابل لا تراوسه نشي کولی چې ټولو خلکو ته برېښنا ورسوي.

که څه هم د ۲۰۰۷ کال په پرتله په هیواد کې د برېښنا مقدار د سم نیمایي نه زیات شوی. خو په دې موده کې په وارداتي انرژۍ د افغانستان اتکاء هم د دوه چنده نه زیاته شوې ده. له اوبو نه د برېښنا په تولید کې هیڅ زیات والی نه دی راغلی او د انرژۍ واردات ددې باعث شوي دي چې په کور دننه د ډیزلو او نورو فوسیلي موادو په وسیله د انرژۍ د تولید کچه کمه شي. خو د انرژۍ په کمیت کې د بیا احیا کیدونکې انرژۍ ونډه لا د پخوا په شان دوه په سلو کې ثابته پاتې شوې ده.

داسې انګیرل کیږي چې په راتلونکو څلورو کلونو کې به انرژۍ ته اړتیا ۵۰ سلنه لوړه شي او په راتلونکو پینځو کلونو کې به دغه ضرورت ۷۰ سلنه زیات شي.

## د برېښنا د لګښت پرتله:

په کور دننه د اوبو په وسیله د یو کیلوواټ برېښنا تولید ...۲۳ امریکایي ډالره او یو کیلو واټ ډیزلی برېښنا ...۲۹۵ امریکایي ډالره تمامیږي. دغه تفاوت څرګندوي چې د انرژۍ په تولید کې څومره سپما شونې ده.

اوس د اوبو په وسیله د انرژۍ تولید د هیواد د مجموعي تولید دریمه برخه جوړوي. په دې برسیره په افغانستان کې د انرژۍ د تولید دوه نورې مهمې سرچینې باد او لمر هم شته.
د هیواد په غربي او شمال شرقي سیمو لکه هرات، فراه، نیمروز، بلخ او تخار کې د بادي انرژۍ تولید په اغیزمنه توګه کیدلای شي. د هیواد نورې برخې د بادي انرژۍ د تولید په اړه په پوره توګه ازمویل شوي نه دي.

لمریزه انرژي، افغانستان په کال کې ۳۰۰ ورځې لمر لري او په دې توګه کېدلای شي چې د هیواد په تقریباً ټولو سیمو کې په ډېر برېالیتوب سره لمریزه انرژي تولید شي، په داسې حال کې چې ورې دستګاوې په ډېرو ساحو کې نصبیدلای شي ستري تولیدی فابریکې د تکنالوژۍ لوی انتقال ایجابوی. نو ځکه دا پوښتنه رامنځ ته کېږي چې په افغانستان کې د انرژۍ د تولید او توزیع شبکه څومره پراختیا موندلی شي او په کومه کچه د انرژۍ د تولید د یو غیرمرکزي سیستم په رامنځ ته کولو کې مرستې ته اړتیا ده.
د ښاغلي شوبر په نظر افغانستان د اوبه ییزې برېښنا د تولید ډېرامکانات لري او دا چانس هم شته چې د انرژۍ له پلوه په خپلو پښو ودرېږي. خو له بده مرغه ددغه صنعت د پراختیا لپاره لا تر اوسه هر اړخیز پلانونه نشته. د بادي انرژۍ په اړه د لویو پارکونو رامنځ ته کول د توزیع لویو بنسټیزو جوړښتونو ته ضرورت لري. نو ځکه ښاغلی شوبر د تولید او توزیع د یوه غیر مرکزي سیستم پلوی دی.

## نقد

دیپلوم انجنیرکوهستاني په وارداتي انرژۍ د افغانستان اتکاء مني. هغه د تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان څخه واردېدونکې برېښنا ۶۰۰ میګا واټه تخمینوي او وایي چې افغانستان به ونشي کړلای چې د انرژۍ په برخه کې په کور د ننه د اوبو له منابعو خپله اړتیا پوره کړي. دی د ښاغلي شوبر بر خلاف د پلان شویو پروژو او ارقامو په استناد په افغانستان کې د اوبو له منابعو نه د انرژۍ د تولید امکانات ډېر کم ګڼي. د ښاغلي کوهستاني د محاسبې په اساس افغانستان کولای شي چې د ۲۳۰۰۰ میګا واټو په شا او خوا کې اوبه ییزه برېښنا تولید کړي: کوکچه ۱۹۰۰۰ میګاواټه، کنړ ۱۱۰۰ میګاواټه، پنجشیر ۱۲۰ میګاواټه نیجراب ۱۶۰ میګاواټه، کینجی ۱۴۰ میګاواټه، د کجکي دوهم تولیدی ستیشن ۱۰۰ میګاواټه او کیدلای شي چې ۱۸۰ میګا واټو په شا و خوا کې نوره برېښنا هم تولید شي. د ځینو پروژو په تطبیق کې د ګاونډیو هیوادونو موافقه باید هم واخیستل شي.

## بحث

اوبه یا په افغانستان کې د انرژۍ د تولید مهمه منبع، موجود تولیدي ظرفیتونه او د راتلونکې لپاره پلان شوي تولیدي ظرفیتونه د بحث اصلي ټکي ؤ. پر دې سربېره د کار لاندې پروژو هم یادونه وشوه. همدغه شان د ګاونډیو هیوادونو سره د اوبو په سر د تړونونو په اهمیت هم بحث وشو. د انرژۍ د تولید لپاره د یوې ستراتیژۍ رامنځ ته کولو ته هم پاملرنه وشوه. انجینر کوهستاني د دولتي پلانونو په استناد څرګنده کړه چې تر ۲۰۲۰ کال پورې به دافغانستان د ښارونو ۶۵ سلنه او د کلیوالي سیمو ۲۵ سلنه سیمې به د برېښنا له انرژۍ نه مستفیدې شي.

## لرلید

کوم کارونه ترسره کیدی شي؟
د انرژۍ په برخه کې د حکومت لرلید او اراده چې د انرژۍ په تولید کې د موجودو امکاناتو نه کار واخلي یو لوی هیله من اقدام دی. خو له بله پلوه د افغانستان د لرې پرتو کلیوالي سیمو لپاره نااميدوونکي هم دی.ځکه دغه سیمې باید ډېره زیاته موده انتظار وکړي ترڅو د ودې لپاره اړینه انرژي ته لاس رسی پیدا کړي؟
یوازې باید د اوبه ییزې برېښنا پر پراختیا باندې اتکاء ونشي
داسې ښکاري چې په افغانستان کې د انرژۍ له پلوه په خپلو پښو دریدلو په هکله بحث تر ډېره حده د بندونو په جوړولو متمرکز دی . دلته د انرژۍ نورو اغیزمنو منابعو د انرژۍ د تولید او توزیع هراړخیزې ستراتیژۍ ته لار نه ده پیدا کړې او پاملرنه نه ده ورته شوی.

افغانستان باید د انرژۍ د تولید نورې طبعي منابع هم وکاروي. د باد او لمر انرژي د لیرې پرتو کلیوالي سیمو او د انرژۍ د یو غیر متمرکز سیستم د ایجاد لپاره ښه چانس دی. د وړو دستګاوو په نصب سره کیدلای شي کلیو او باندو ته برېښنا ورسول شي. په دې توګه د دغو سیمو د ودې او خلکو په ژوند کې ګټور بدلون راتللای شي.
د انرژۍ د تولید او توزیع د شبکو اړتیا
د انرژۍ د تولید او توزیع لپاره متوازن پراختیایي پلانونه د یو بل سره په سمون د مرکزي او غیرمتمرکزو شبکو د رامنځ ته کولو ایجاب کوي. خو په دې پروسه کې باید د تولید او توزیع یو غیر مرکزي سیستم ته زیاته پاملرنه وشي

## مرکزي پلان جوړونه

پلان جوړونه باید مرکزي وي خو د لېرې پرتو سیمو د اړتیاوو سره په سمون باید ترسره شي. د انرژۍ په تولید او توزیع کې باید پوره پاملرنه وشي چې بیلې بیلې کاري ساحې په اغیزمنه توګه د یو بل سره په ارتباط کې شي. په دې توګه کېدلای شي د افغانستان لپاره د انرژۍ د تولید او توزیع یوه داسې عمومي ستراتیژي وده وکړي چې د انرژۍ د تولید له اړخه تر ډېره حده په ځان متکي وي او دغه انرژي ډېرو سیمو ته ورسوي. دې هدف ته د رسیدو لپاره لویې پروژې په تیره د لویو بندونو جوړول او ورسره اړینې شبکې داسې ضروري دي لکه په بیلو بیلو سیمو کې د تولید او توزیع د غیر متمرکزو کوچنیو او مستقلو دستګاوو درول.

# د اورګاډي شبکه جوړول

**وړاندې کوونکی: جلالتماب عبدالقدوس حمیدي، د افغانستان د فواید عامې وزیر**
**نقدکوونکی: پوهندوی حمیدالله فاروقي، د کابل پوهنتون د اقتصاد د پوهنځی استاد او د ټرانسپورټ او هوایي چلند پخواني وزیر**
**چلوونکې: ډاکټر قایم جلالزاده، د افغانستان د محلي ارګانونو د خپلواکې اداري ستر سلاکار**

## پرزنتیشن

افغانستان په وچه کې پروت داسې هیواد دی چې له ډېرو ګاونډیو سره پولې لري. له همدې امله د سوداګرۍ د ودې لپاره مدرن ترانسپورټي سیستم ته اړتیا ده. خو افغانستان په دې برخه کې د وخت د غوښتنو او عصري ټیکنالوژۍ څخه ډیر وروسته پاتې دی، په داسې حال کې چې ګاونډیان د اورګاډي نسبتا پرمختللې شبکې لري خو افغانستان لا ددغه سیستم د رامنځ ته کولو لپاره د پلان ګذارۍ په پړاو کې دی.

د افغانستان د فواید عامې وزیر، ښاغلي عبدالقدوس حمیدي د اورګاډي د پټلۍ د غزولو لپاره د دولت جامع او د هیلو نه ډک پلان وړاندې کړ او زیاته یې کړه چې په لومړي پړاو کې د اورګاډي د پټلۍ ددرېیو اوږدو کرښو غزول په پلان کې دي.

لومړۍ کرښه د ۱۲۷۸ کیلومترو په اوږدوالي د ایران سره له پولې پیل د غور او بادغیس نه په تیریدو سره بلخ ته رسیږي. بیا وروسته د بلخ نه د کندوز او شیرخان بندر له لارې د تاجکستان سره وصلیږي. همدغه کرښه به د دوو نورو کرښو په وسیله د ترکمنستان او ازبکستان سره هم ونښلول شي.

دوهمه کرښه د ۹۳۰ کلیومترو په اوږدوالي د (MCC) چینایي کمپنۍ په مرسته جوړیږي. دغه پروژه په لوګر کې پیل کیږي او تر کابل، بامیانو او بغلان پورې رسیږي. له هغه وروسته د کندز له لارې شیرخان بندر ته رسیږي. همدغه شان ددې پروژې بل لورۍ د ننګرهار له لارې په تورخم کې د پاکستاني پټلۍ سره نښلي.

درېیمه کرښه به د هرات څخه تر فراه، هلمند، کندهار او غزني پورې او بیا له هغه ځایه تر لوګره وغځیږي. د کندهار څخه پاکستان ته هم یوه کرښه په پام کې نیول شوې ده.

حمیدي ټینګار وکړ چې ددې پروژو عملي کول ډېرې ننګوني لري او افغانستان ددغه شان پروژو په تطبیق کې هیڅ تجربه او بلدتیا نلري. نوموړي زیاته کړه چې اوس پدې هکله څیړنې روانې دي او دا هم پوره جوته نده چې ددې پروژې په تطبیق به ټول څومره لګښت راشي.

## نقد

ښاغلی پوهندوی فاروقي د فواید عامی د وزیر سره پدې خبره هم نظرۀ چې د اقتصادي پرمختګ لپاره د اورګاډي کرښه اړینه ده. هغه زیاته کړه چې پر دغه کرښه تر هر څه لومړی د ګاونډیو سره سوداګري په نظر کې نیول شوې چې د جوړولو چارېږي ښايي دCAREC، OIC، SAARC، Shangha او داسې نورو کمپنیو لخوا ترسره شي. ددغو نښلوونکو کرښو په جوړولو سره به د سوداګرۍ له پلوه په پاکستان باندې د افغانستان جنجالي اتکاء کمه، د اومو موادو استخراج او صادرولو زمینه برابره شي. د ترانسپورټي لګښتونو په کمېدو سره افغانستان د رقابت توان پیداکوي او د افغانستان اقتصادي ودې لپاره ښه شرایط رامنځ ته کېږي. د افغانستان مناسب جغرافیایي موقعیت د اسیا او اروپا ډینامیکو اقتصادی مرکزونو ته د لاس رسي او همدغه شان د جنوبي او مرکزي اسیا لپاره د پل حیثیت لري. د افغانستان راتلونکي مډرن ترانسپورټي جوړښتونه به د ټولې اسیا په ثبات او اقتصادي وده کې ډینامیک رول ولوبوی.

خو ددغو امیدونو او خوشبینیو ترڅنګ ننګونې او خطرونه هم شته. اکثره دغه پلانونه ډېر زاړه دي او د ګاونډیو هیوادونو سره د پټلۍ د نوعیت او سټنډرد ستونزې لا هوارې شوې نه دي. ددغو پروژو سره د افغاني مسؤلیتونو ډېره علاقه هم نه احساسیږي او ددغو پروژو تطبیق د بهرنیو مرستو پرته شوني هم نه دي. په مالي لحاظ په درېیو پړاوونو کې ددغو پروژو تطبیق لا تراوسه یقیني شوې نه دي. نو څکه یوه هراړخیزه ستراتیژي په کار ده چې ددغو ترانسپورټي کرښو تطبیق د افغانستان لپاره ګټور تمام شي. نو څکه باید د پټلیو د پالنې او ترمیم او په دغه ترانسپورټي سیستم پورې اړوند خدماتو لپاره مناسب پلانونه طرح شي.همدغه شان باید د اورګاډي تمځایونه د ترانسپورت د نورو سیستمونو سره په سمون او همغږۍ تنظیم شي. د مستهلکینو اړتیاوو ته پاملرنه باید په لومړیتوبونو کې راشي. له شک پرته اوسنی امنیتی حالت هم د پټلیو د غزولو او هم د ساتنې او پالنې له لحاظه یو ستر چلنج دی.

په افغانستان کې ددغه نوي ترانسپورټي سیستم مسؤلیتونه اوس په بیلو بیلو ارګانونو پورې تړلي دي. د ښاغلي فاروقي په نظر د اړوندو فعالیتونو مسؤلیت باید په یوه واحد ارګان کې متمرکز شي او یا باید ددې لوی هدف د ترسره کولو لپاره نوی وزارت رامنځ ته شي.

## بحث:

بحث د اورګاډي د کرښې په تخنیکي اړخ باندې وڅرخید. په داسې حال ده چې د ګاونډیو هیوادونو د اورګاډي کرښې د افغانستان تر پولو پورې رارسیدلي دي چې د پټلیو پلنوالي یې متفاوت دی. نو د افغانستان لپاره به د پټلۍ کوم ډول مناسب وي. په دې هکله د فواید عامې وزیر په څرګند ډول وویل چې افغانستان به هغه سټنډرډ وټاکي چې په اقتصادي معقولیت ولاړ وي. اوس افغانستان دداسې یو طرحې په جوړولو کار کوي.

## لرلید ـ څه کیدلای شي؟

د حکومت له خوا د اورګاډي پټلۍ د غزولو، ساتنې او په اقتصادي لحاظ د هغې نه د اغیزمنې استفادې لپاره د هراړخیزو پلانونو د بشپړیدو سره سم باید ددغې مهمې بنیادي پروژې په هکله د خلکو او اقتصادي مؤسساتو سره بحث وشي. د عامو خلکو او اقتصادي مؤسساتو ملاتړ په افغانستان کې ددې نوي ترانسپورټي سیستم د ګټورې کارونې، د هغې د پایښت او پراختیا لپاره د نورې پانګه اچونې اساسي شرط دی.

په بهرنیو مرستو کې د ضرورت ترڅنګ باید افغاني ګټو ته هم پوره پاملرنه وشي. ددې پروژې عملي کول زیاتو لګښتونو ته اړتیا لري چې دقیق تخمین یې اوس نشي کیدلای. نو څکه باید بهرنۍ مرستې جلب شي. خو دا به هم سمه نه وي چې د مرستو په جلب کې یوازې د مرسته کوونکو هر اړخیزې ګټې په نظر کې ونیول شي . د اورګاډي د سیستم رامنځ ته کول باید د ټولو د مخه د افغانستان د اهدافو او ګټو د تحقق په خاطر وي. خو د ګاونډیو او مهمو سوداګریزو همکارانو لکه هند او چین سره د ګټو او علایقو تشخیص او هم اهنګ کول ضروري کار دی.

په سیمه ییزه سطحه د ګډ کار ستراتیژي

د نورو هلو ځلو تر څنګ باید د سیمه ییزو اقتصادي سازمانونو له ړیکا، سارک او شانګهای سره ګډ کارته پراختیا ورکړل شي. په دې توګه کیدلای شي چې د افغانستان د اورګاډي شبکه په سیمه کې د افغانستان د مناسب ترانزیتي موقعیت په وجه د تجارت د پراختیایي طرحې په جوړولو کې ګټور رول ولوبوي.

د اقتصادی بریا شرط: ترمیم ـ کار ته آماده کول او امنیت

چې په دایمي توګه د اورګاډي شبکه د یو با اعتباره او ډاډمن ترانسپورټي سیستم په توګه د خلکو خدمت ته وړاندې شي پکار ده چې ددې نوي سیستم له فعالیدو مخکې د اماده ساتلو، ترمیم او امنیت لپاره په یوه جامع طرح کار وشي. دغه کار د عامو وګړو او اقتصادي مؤسساتو د باور لپاره ضروري دی. ددې اهدافو د ترسره کولو لپاره روزل شوی‌مسلکي پرسونل‌ته اړتیا ده چې با کیفیته کار او د خطرونو په وړاندې د پټلیو د ساتنې‌مسؤلیت سرته‌ورسوي.



FRIEDRICH EBERT STIFTUNG
DAN
Deutsch Afghanisches Netzwerk

# کرنه:

**وړاندې کوونکی: ډاکټر کريم وزيري،د بغلان د قند دفابريکې عمومي رئيس،**
**نقد: ډيپلوم انجينرعنايت اسحاقزی، د المان د نړيوالو همکاريو د مؤسسې سلاکار**
**چلوونکی: ليزا اکبري، د المان د اګرو اکشن ايد د مؤسسې کارمنده**

## پرزينتيشن

ډاکټر کريم د بحث په پيل کې څرګنده کړه چې افغاني ټولنه په دوديز ډول په کرنه او مالدارۍ ولاړه ده. افغانستان بايد نه يوازې پدې لار کې بايد هيڅ فرصت له لاسه ورنکړي، بلکې د خپل دغه خصوصيت نه د يوه چانس په توګه کار واخلي. د رسمي ارقامو په استناد د افغانانو د ۷۰ سلنې نه زيات وګړي په کليوالي سيمو کې ژوند کوي او په مستقيمه او يا غيرمستقيمه توګه د کرنې نه ژوند ضرورتونه پوره کوي.
افغانستان لا په ۱۹۷۹ کال د دسامبر په مياشت کې د پخواني شوروي اتحاد د اشغال نه د مخه او د هغه وروسته کلونو کې په اقتصادي لحاظ د نړۍ د ډيرو وروسته پاتې هيوادونو کې شميرل کيده. خو په هغه وخت کې افغانستان کرنيز سيستم ددې توان درلود چې د هيواد په ملي عوايدو کې د لوېې منبع په توګه وپيژندل شي.
دا چې د افغانستان کرنې وشو کړای چې د ۲۵ کلن ورانوونکې جګړې او وروسته کورنۍ جګړې باوجود افغاني ټولنې ته ضروري خوراکي توکي اماده کړي دي، د پورتنۍ ادعا ښه ثبوت دی او د افغانستان په ملي اقتصاد کې د کرنې مرکزي ارزښت په ډاګه کوي. دغه واقعيت هم بايد ومنل شي چې که چيرې د افغانستان کرنيز سيستم ته په تيرو لسو کلونو کې مناسبه پاملرنه شوې وای، اوس به موږ د افغانستان په زراعتي سيستم کې د لويو پرمختګونوشاهد ؤ.

داچې افغانستان په راتلونکي کې د خپل پرمختګ لپاره کومه لار انتخاب کړي، له شک وتلی واقعيت دی. د اوسنيو واقعيتونو په نظر کې نيولو سره د صنعتي سکتور د ودې سره مرسته د بري اميد زياتوي. خو افغانستان به په نږدې راتلونکي کې په صنعتي لحاظ پرمختللو ګاونډيانو لکه ايران، پاکستان او چين سره د سيالۍ جوګه نشي. د افغانستان په بازارونو کې ددغو هيوادونو ارزانه توليداتو حجم ددغه ادعا څرګند ثبوت دی.
خو په سيستماتيکه توګه د کرنې د پرمختګ سره مرسته د ګام په ګام کرنيزو توليداتو د صنعت رامنځ ته کول يوه داسې لار ده چې په ډېر ځله ازموېل شوې او د راتلونکي پرمختګ لپاره د اميدونو ډک زيری دی. افغانستان د يو ډير مؤلد کرنيزسکتور د ودې لپاره ټول ضروري طبعي شرايط او منابع لري. ددغو امکاناتو په کارولو سره د کرنيزو توليداتو داسې يو صنعت رامنځ ته کيدلای شي چې د رقابت جوګه وي. په محلی کچه د افغانستان د کرنيزو بوټو پيوند کولو په وسيله کيدلای شي چې د هغو زراعتي اومو او پخو موادو د وارداتو مخنيوی وشي چې د افغانستان د اسعارو يوه لويه برخه پرې مصرفيږي. پر دې سربېره په کليوالي سيمو کې د کار امکانات زياتيږي.
د کليوالي سيمو د ودې لپاره دغه شان يو نوښت به نه يوازې د ښه امنيت، سياسي ثبات او غربت د منځه تلو باعث شي، بلکې د ځوان نسل لپاره به په اقتصادي او ټولنيز ژوند کې د اميدونو داسی دروازې پرانيزي چې نن يې پرمخ تړلې دي.

ډاکټر وزيري دغه شان وده او د هغه بنه عواقب په بيلګه ييزه توګه د بغلان د قند د يوي لويې فابريکې په وسيله تشريح کړل. دلته د پروسې له پيل نه د زراعتي توليداتو انتخاب، د توليداتو مسلکي ځارنه په ښخو صنعتي موادو ددغو زراعتي موادو بدلول او نورو ځايونو ته د هغې ترانسپورت او بالاخره ددې پروسې په پای کې د نورو امکاناتو رامنځ ته کيدل ګام په ګام وڅيړل. په دې برخه کې مسلکي روزنه، د بريښنا د انرژۍ نه استفاده او د يو سيستم په توګه ددغه سکتور سره مرسته او حتی موجوده ستونزې به په ډاګه کړې چې د کرنې په برخه کې د موجودو امکاناتو نه ډيره کمه استفاده شوې وي.

## نقد

ديپلوم انجينر عنايت اسحق زی د ډاکتر وزيري سره همنظري وښوده او زياته يې کړه چې افغانستان اوس ددې توان نه لري چې د کرنې په مؤلديت کې د نفوس د زياتيدو سره موازي زياتوالی راولي. اوس د افغانستان ۲ سلنه خاوره کرل کيږي. د اوبو د يو مناسب منجمنت په صورت کې کيدلای شي ډيرې نورې ځمکې د کر لپاره اماده شي. د اوبو منجمنت بايد د راتلونکو علمي بحثونو په اساسي موضوع بدل شي.
ترڅو چې د افغانستان د کرنيز سکتور د هرې برخې لپاره د غذايي موادو د توليد په موخه د مرستې يو هر اړخيزپلان جوړ او عملي نه شي د لنډ مهال اهدافو له وجهې به د اپينو کر مخ په زياتيد وي.

## لرليد

د کرنې د دوامداره کاربوهانو د څرګندونو نه جوتيږي چې کرنې ته نبايد د يوې ستونزې په توګه وکتل شي. کرنه کيدلای شي د افغانستان د اقتصادي ودې لپاره په يوه ښه چانس بدله شي. ددوی په نظر د اوبو منجمنت د کرنې د ودې لپاره د ټولو نه مرکزي او مهم سوال دی چې ډير ژر بايد حل شي. د اوبو مناسب منجمنت په نتيجه کې د ډيرو نورو ځمکو د خړوبولو چانس شته.

## د اوبو اغيزمن کارول او عادلانه ويش

د اوبو په منجمنت کې بايد اصلاحات راوستل شي او که اړتيا شي نو د اوبو د منجمنت لپاره بايد نوي قوانين هم وضع شي. حکومت بايد د وضع شويو قوانينو رعايت او تطبيق يقيني کړي.
د افغانستان په کرنه کې اوسنی ابي ځمکې په تدريج سره په يوه ستونزه بدليږي نو ځکه د نويو ځمکو د خړوبولو پرته د کرنيزه محصولاتو د زياتيدو تمه نشي کيدلای. د ځمکو د خړوبولو لپاره افغانستان په کافي اندازه اوبه لري خو له دغو اوبو نه په اغيزمنه توګه کار نه اخيستل کيږي. نو ځکه بايد د سيندونو ترڅنګ د اوبو د زيرمه کولو واړه بندونه جوړ شي او د ژمي له خوا د اوبو د زيرمه کولو لپاره کانالونه وکيندل شي.

## د کرنيزو ځمکو اغيزمنه کارونه

د ځمکې د اغيزمني کارونې په موخه بايد د اجارې اوسنی سيستم اصلاح او په ورو ورو ټوټو د ځمکې د ويش د مخنيوې لپاره قوانين وضع شي. د کرنې لپاره په مناسبو ځمکو کې د ودانيو په جوړولو بايد جدي بنديز ولګول شي.

د ځمکې د اغيزمن کر او کارونې په موخه د بزګرانو پوهاوی
د ځمکې د مناسبې کارونې په موخه بايد لازم اقدامات وشي. د بيلګې په توګه ځمکې ته سره ورکول بايد په مسلکي توګه او د سيمې د ايکولوژيکو شرايطو سره سم ترسره شي. په دې توګه د ځمکې مؤلديت لوړيږي او د ټل لپاره ښه حاصل ورکولو ته اماده کيږي. همدغه شان بايد بزګرانو ته په اسانۍ سره عملي کيدونکې مسلکي مشورې ورکړل شي. بزګران ددغه پوهاوي ترڅنګ نورو مرستو لکه د لوړ کيفيت اصلاح شوبږ تخمونو او د ښه نوعيت زراعتي بوټو ته هم ضرورت لري. پر دې سربيره بايد د کرنيزو محصولاتو د تحليل او څيړنې په خاطر د ټول هيواد په کچه لابراتوارونه موجود وي.

## د بازارموندنې په برخه کې مرسته

بله مهمه موضوع د کرنيزو محصولاتو لپاره د بازارموندنې اغيزمنې لارې چارې دي. دلته بايد د محصولاتو د مسلکي زيرمه کولو او په يخ ځايونو کې د ساتنې لپاره ظرفيت ته پوره پاملرنه وشي. په دې برسيره بايد کورني محصولات د ارزانه بهرنيو وارداتو په وړاندې داسې حمايه شي چې مستهليکن د ډير فشار لاندې رانشي، د کرنيزو محصولاتو د تنوع د پراختيا لپاره کار وشي او بزګران د مختلفو او نويو موادو کر ته وهڅول شي.

## يادونه:

کنفرانس له ټاکل شوي وخت څخه يو ساعت زيات دوام وکړ نو ځکه په کرنه د حاضرينو له خوا انتقادي بحث ته وخت پاتې نه شو.

فریدریښ ایبرټ بنسټ د ټولنیزو ولسي ارزښتونو په وړاندې ځان مسؤول ګڼي او ددغه ارزښتونو د یقیني کولو لپاره د اقتصادي، سیاسي، مدني ټولنو او علمي مؤسساتو سره ګډ کار کوي. فرید ریښ ایبرټ بنسټ په اسیایي هیوادو کې د ۱۴ نورو دفترونو ترڅنګ د ۲۰۰۲ کال راپدیخو په کابل کی هم یو دفتر لري.
په نړیواله کچه فریدیښ ایبرټ بنسټ د ۱۰۰ نه زیاتو دفترونو په لرلو سره د دیموکراسۍ د ټینګښت، ټولنیزې او اقتصادي ودې لپاره کار کوي. فریدریښ ایبرټ بنسټ د سیمه ییزو او نړیوالو موضوعاتو په اړوند په بحثونو ټینګار کوي، د هیوادونو ترمنځ د زیاتې راکړې ورکړې، زغم او تفاهم لپاره کار کوي.
په افغانستان کې فرید ریښ ایبرټ بنسټ د سیاسي ګوندونو، کارګري ټولنو، تولیدي او خدماتي مؤسساتو، مدني ټولنو او په تیره بیا د ځوانانو سره د یوه سوله ییز، د اقتصادي پرمختګ او ټولنیزعدالت نه بهره مند او دیموکرات افغانستان د رامنځ ته کولو لپاره ګډ کار کوي.

افغان جرمن نهاد د افغاني او الماني ټولنو ترمنځ د پُل حیثیت لري. دغه نهاد هڅه کوي چې د افغانستان په ثبات او ابادۍ کې د جرمن میشتو افغانانو ونډه او ارزښت زیات کړي. افغان جرمن نهاد په افغانستان کې د سیاسي ثبات، اقتصادي او ټولنیزې ودې او همدغه شان د افغانستان او المان ترمنځ د همکارۍ د اغیزمنتوب لپاره کار کوي.
افغان جرمن نهاد یوه غیرانتفاعي اوغیر سیاسي ټولنه ده چې د نورو اهدافو ترڅنګ هڅه کوي ترڅو د افغانستان بنسټیزې ستونزې په ګوته کړي، ددغو ستونزو ریښې و پلټي او د هوارۍ لپاره یې لازم وړاندیزونه او عملي اقدامات ترسره کړي. بنسټیزجوړښتونه، مسلکي او عمومي زده کړې، سیاسي چارې، اقتصادي پالیسي، حقوقي مسایل او د مسلکي پوهې او تکنالوژۍ انتقال د افغان جرمن نهاد د کار موضوعات دي. په دې برسیره افغان جرمن نهاد هڅه کوي چې د افغانستان او المان ترمنځ د سیاسي، اقتصادي، کلتوري او ټولنیزو اړیکو په لا ژورتیا کې ونډه واخلي.


**عمومي منځپانګه:** ډاکتر قیام الدین جلال زاده، د افغان جرمن نهاد مشر او فرانک هنتکه، په افغانستان کې د فریدریښ ایبرټ بنسټ د دفتر مشر

**لیکنې او ویناوې:** محمدشعیب اعظم د افغان جرمن نهاد مشرتابه غړی، قیام الدین جلال زاده د افغان جرمن نهاد مشر، فرانک هنتکه په افغانستان کې د فریدریښ ایبرټ بنسټ د دفتر مشر، دپلوم سیاست پوه ضیاوالله محمود، د افغان جرمن نهاد مرستیال، د اوید مجید، د افغان جرمن نهاد سکرتر جنرال او جمال رحمان د افغان جرمن نهاد مرستیال

**لنډ راپورونه:** اکرم برهان او احمدجاوید، د فریدریښ ایبرټ بنسټ د ځوانو رهبرانو د پروګرام غړي

**ریډکسیون:** فرانک هنتکه په افغانستان کې د فریدریښ ایبرټ بنسټ ددفتر مشر،

**کمپوز:** طارق اقتداري، د فریدریښ ابیبرټ بنسټ د ځوانو رهبرانو د پروګرام غړی

**چاپ:** ۱۰۰۰ ټوکه


په راتلونکو میاشتو کې به افغان جرمن نهاد او فرید ریښ ایبرټ بنسټ د دی کنفرانس موضوعات په مسلکی سیمینارونو کې په ژوره توګه وڅیړي. ددغو څیړنو او د افغانستان د اقتصادي ودې سره د مرستې په نیت د نورو نړیوالو کنفرانسونو پایلې به د راتلونکی کال په لومړۍ نیمایي کې د افغان جرمن نهاد او فرید ریښ ایبرټ بنسټ له خوا د جوړېدونکي دوهم اقتصادي کنفرانس د کار موضوعات وي.

FRIEDRICH EBERT STIFTUNG

DAN Deutsch-Afghanisches Netzwerk

Afghanistan-Office



FRIEDRICH EBERT STIFTUNG

DAN

Deutsch Afghanisches Netzwerk